مطبوعاتي علاميه
په نوې بڼه د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د انګلېسي غږيزو خپرونو د پيلېدو خبرتيا

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر غواړي، چې د ۲۰۱۷ د مې پر ۲۹مه په نوې بڼه انګليسي غږيزې خپرونې پيل کړي. دا خپرونې به د روژې له مبارکې مياشتې سره سمې پيل شي. موږ له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې په دغه کار کې برکت واچوي او بريالی يې کړي.
دغه نشرات به د بېلابېلو موضوعاتو نوې خپرونې انځور کړي؛ لکه: اسلامي شخصيت جوړونه او ځواکمنتيا، پر نړيوالو سياسي پېښو بحث او همدارنګه د حزب د غړو له خوا د مختلفو ترسره شوو فعاليتونو په ګوته کول. د خپرونو موخه د اورېدونکو د اسلامي نړۍ ليد پراخول او له مسلمانانو سره د اصحابو کرامو غوندې اسلامي شخصيتونه په جوړولو کې مرسته ده. همدارنګه کافرانو ته د اسلام ريښتينولي او هر اړخيزوالي ښيي، چې غربي رسنۍ او دولتونه يې نه انځوروي.
له تاسو هيله کوو چې هره اونۍ د دوشنبې او پنجشنبې پر ورځو د نوو موضوعاتو لپاره زموږ منظمې خپرونې واورئ. پر ټولو ټولنيزو رسنيو او د مرکزي مطبوعاتي دفتر پر انګلېسي وېبپاڼه مو کتلای شئ.

د غږيزو خپرونو لېنک:
اصلي پاڼه: http://hizb-ut-tahrir.info/en/index.php/radio?tmpl=component
فېسبوکپاڼه: https://web.facebook.com/HT.english.radio/?fref=ts
يوټيوب: https://www.youtube.com/c/HizbUtTahrirEnglishRadio

ډاکټر عثمان بخاش
د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ريس
شمېره: ۱۴۳۸هـ/ ۰۴۳
۱۴۳۸هـ.ق، د شعبان ۱۹مه
۲۰۱۷، د اپرېل ۱۶مه